**د نړیوال خوندیتوب د 2015 قانون**

**[بیانیه به د نړیوال خوندیتوب د 2015 کال قانون د (a) (10) 70 برخې لاندې باید چمتو شي]**

**د معلوماتو یادښت – انتقالی ترتیبات**

**د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک (د کډوال موقف او ضمني خوندیتوب) او پاتې کېدلو د اجازې په اړه د پلټونو او تعیین ولو لپاره د واحد غوښتنلیک د کړنلارې معرفی کېدل**

دا ځرګندوني يوازې د معلوماتو او لارښووني لپاره دي. دا ځرګندوني حقوقي مشوره نه ده او نه د نړیوال خوندیتوب د **2015** کال له قانون څخه حقوقي تفسير وړاندې کوي. دا یادښت یا نوټ یوازې د قضیو هغه اصلي ویشنیزې (کټګورۍ) تر پوښښت لاندې نیسي چې د نړیوال خوندیتوب د **2015** کال د قانون انتقالي احکام پرې اغېز لري.

دا نوټ ټول هغه احتمالي شرايط تر پوښښت لاندې نه نیسي چېرته چې ښايي انتقالي احکام د تطبیق وړ وي. که چیرې تاسې د نړیوال خوندیتوب د **2015** کال قانون او د هغه د انتقالي احکامو په اړه چې ستاسې په قضیه کې د تطبیق وړ دي لا ډېر معلومات غواړئ، نو تاسې باید د حقوقي مشورې په لټه کې شي.

**دا معلوماتی نوټ باید د نړیوال خوندیتوب د غوښتونکو لپاره د جلا معلوماتي کتابګوټي (IPO 1) او د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې د پوښتنلیک (IPO 2) سره په ترڅ یا یوځای ولوستل شی.**

## 1. معرفي

1.1. د 2015 کال د نړیوال خوندیتوب قانون (د 2015 کال قانون) پلي کېدل د عدلیې او مساواتو د وزارت (د وزیر) لخوا د **2016 کال د ډیسمبر په 31** نېټه پیل شو. په دې یادښت کې دغه نېټه د " پیل نېټې " په نامه بلل شوې ده.

1.2. دا معلوماتي نوټ د نړیوال خوندیتوب د 2015 کال قانون له مخې د هغو انتقالي ترتیباتو په هکله جزئیات وړاندې کوي، چې د نړیوال خوندیتوب (د کډوال موقف او ضمني خوندیتوب) د

غوښتنلیکونو لپاره پلټنې او ټاکل (د پروسې یو ځانګړی پړاو دی) اداره کوي چې په دی هیواد (آیرلنډ) کې د پیل له نېټې د مخه رامنځته شوي و. همدارنګه په هیواد کې د پاتې کېدو د اجازې په تړاو هم ځانګړي جزئیات وړاندې کوي.

1.3. دا په پام کې ولرئ چې دا معلومات له تاسې سره د هغو ترتیباتو په اړه په پوهېدو کې مرسته وکړي چې تاسې ورځخه په لاندینیو مواردو کې کار واخلئ.

- د کډوالو د غوښتنلیکونو د کمشنر له دفتر ( ORAC) څخه د کډوالۍ د موقف او ضمني خوندیتوب د ځانګړو غوښتنلیکونو لپاره.

- د کډوالۍ د استیناف له محکمې (RAT) څخه د استیناف د ځانګړو غوښتنو لپاره.

کوم چې تاسې د 2015 کال د قانون له مخې د بهیر د بشپړولو لپاره د آیرلنډ د تابعیت او کډوالۍ د خدمتونو د نړیوال خوندیتوب دفتر ته د 2016 کال د ډیسمبر د 31مې نیټې څخه مخکې سپارلي دي.

1.4. د هغو دلایلو په اړه د کومو له مخې چې یو تن د کډوال یا (IPO) د موقف مستحق ګرځي، او د نړیوال خوندیتوب دفتر ته د درخواست د کړنلارې په اړه تفصیلي معلومات په ضمیمه کې د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې په معلوماتي کتابګوټي (IPO 1) کې ځای پرځای شوي دي. دا کتابګوټی دا هم روښانه کوي چې د نړیوال خوندیتوب د یو غوښتونکي په توګه ستاسې حقوق او مسؤولیتونو څه دي او دا چې د غوښتنلیک په بهیر کې به تاسې له چا سره سر او کار لرئ. همدارنګه کتابګوټی هغه کړنلارې هم په ګوته کوي چې د وزیر لخوا د نړیوال خوندیتوب له اړتیا پرته د نورو دلایلو پر بنسټ په هیواد کې د پاتې کېدو د اجازې پر مهال په پام کې نیول کېږي.

1.5. مونږ همدارنګه د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې لپاره پوښتنلیک هم ضمیمه کړی دی (IPO 2).

1.6. په دقیق ډول د دې معلوماتو او په ضمیمه کې د معلوماتي کتابګوټي او پوښتنلیک لوستل او د اړتیا په صورت کې د حقوقي مشورې غوښتل خورا مهم او ستاسې په ګټه دي، څو تاسې د خپل غوښتنلیک ملا ور وتړئ او **د دې ټکي پر پوهېدو ډاډه شئ چې د 2015 کال د قانون انتقالي ترتیبات پر تاسې څنګه د تطبیق وړ دي.**

## 2. د نړیوال خوندیتوب د 2015 کال د قانون موخه

2.1. د نړیوال خوندیتوب د 2015 کال قانون د واحد غوښتنلیک لپاره کړنلاره معرفي کوي چې د نړیوال خوندیتوب (د کډوالۍ موقف او ضمني خوندیتوب) د غوښتنې او په هیواد کې د نورو

دلایلو پر بنسټ د پاتې کېدو د اجازې لپاره باید په یوه واحد پرله پسې بهیر کې تعین او و ازمویل شي.

2.2. د 2015 کال قانون کې انتقالي ترتیبات شتون لري کوم چې د کډوالۍ د موقف او د ضمني خوندیتوب پر هغو ځانګړو غوښتنلیکونو د تطبیق وړ دي چې د پیل له نیټې یې مخکې سپارل شوي وي (**4 برخه وګورئ**).

## 3. د 2015 کال قانون له مخې به څوک غوښتنلیکونه او د استیناف غوښتنې تعینوي؟

3.1. د 2015 کال قانون له مخې ORAC لغوه شوې دی. د نړیوال خوندیتوب او په هیواد کې د پاتې کېدو لپاره د اجازې په تړاو چارې او د پلټنو او تعیین مسؤولیت د 2015 کال قانون د احکامو پر بنسټ د پیل د نیټې راهیسې د آیرلنډ د تابعیت او کډوالۍ خدمتو (INIS) کې د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) ته لېږل شوې دي چې په همدې معلوماتي نوټ کې تر پوښښت لاندې نیول شوې دي.

3.2. د 2015 کال قانون له مخې RAT هم لغوه شوې دی. د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیکونو په هکله د استیناف د غوښتنو د تعیین مسؤولیت او اړونده چارې د 2015 کال قانون د احکامو پر بنسټ د پیل د نیټې راهیسې د نړیوال خوندیتوب د استیناف محکمې (IPAT) ته لېږل شوې دي.

## 4. د کډوالۍ موقف او ضمني خوندیتوب د هغو <u>موجوده</u> غوښتنلیکونو لپاره انتقالي ترتیبات چې د پیل له نیټې څخه مخکې بشپړه شوي نه دي.

4.1. که چیرې غوښتنلیک د اروپایي اتحادیې د ډُبلن د مقرراتو له مخې نه څېړل کېږي، په هغه حالت کې چې ځانګړې بدیل ترتیبات د پلې کېدو وړ وي (د نړیوال خوندیتوب د غوښتونکو لپاره د معلوماتي کتابګوټې <u>10 برخه</u> وګورئ)، نو په دې صورت کې به د کډوالۍ د موقف او ضمني خوندیتوب د هغو غوښتنلیکونو لپاره چې د پیل له نیټې څخه <u>مخکې</u> سپارل شوي وي لاندېني انتقالي ترتیبات د تطبیق وړ وي.

### 1 ویشنیزه یا کټګوري – په ORAC کې د کډوالۍ غوښتنلیکونه

که چیرې تاسي د پیل نیټې څخه مخکې د کډوالۍ غوښتنه کړې وي خو د کډوالۍ د 1996 کال د قانون د 13 برخې له مخې د ORAC لخوا راپور لا هم چمتو شوی نه وي (په بل عبارت کومه سپارښتنه نه وي شوې)، نو ستاسي غوښتنلیک ته به د نړیوال خوندیتوب (د کډوالۍ موقف او ضمني خوندیتوب دواړو) لپاره د 2015 کال د قانون په رڼا کې کتل کېږي. <u>دا چې تاسي د کډوال موقف یا ضمني خوندیتوب د اعلامیې مستحق یاست او که څنګه</u>، ستاسي غوښتنلیک په دې اړه د غور لپاره د نړیوال خوندیتوب دفتر(IPO) ته لېږل شوی دی.

که داسي وانګېرل شي چې تاسي د کډوال د موقف او ضمني خونديتوب مستحق نه یاست، نو وزیر به له ځنډ پرته په دې غور وکړي چې که چیرې تاسي ته د نورو دلایلو له امله په هیواد کې د پاتې کېدو اجازه درکړل شي. دا پرېکړه به د ټولو هغو اسنادو پر بنسټ ترسره شي چې تاسي وار د مخه سپارلي دي، د نورو دلایلو له امله په هیواد کې د پاتې کېدو د اجازې لپاره به له تاسي څخه د نوي غوښتنلیک د ورسپارلو غوښتنه ونه شي.

**2 کتګوري – د کډوالۍ د استیناف غوښتنې**

که چیرې د پیل له نیټې څخه مخکې تاسي RAT ته د کډوال د موقف لپاره د استیناف غوښتنلیک ورکړی وي خو تر هغه نیټې يې RAT په اړه پریکړه نه وي کړې، نو د نړیوال خونديتوب لپاره ستاسي غوښتنلیک به د 2015 کال د قانون په رڼا کې څېړل کېږي. <u>یواځې د ضمني خونديتوب د حق په اړه د غور لپاره</u> ستاسي غوښتنلیک د نړیوال خونديتوب دفتر (IPO) ته لېږل شوی دی. په دې ډول مواردو کې به ستاسي د کډوالۍ موقف د غوښتنې په اړه د ORAC سپارښتنه به پر خپل ځای او خوندي وي. که چیرې IPO سپارښتنه کړې وي چې تاسي ته باید ضمني خونديتوب در نه کړل شي، نو وزیر به له ځنډ پرته په دې غور وکړي چې که چیرې تاسي ته د نورو دلایلو له امله په هیواد کې د پاتې کېدو اجازه درکړل شي. RAT ته د استیناف لپاره ستاسي پخوانۍ غوښتنه به پر خپل ځای او خوندي وي او د IPAT نوې ادارې ته به ولېږل شي. که چیرې ستاسي د ضمني خونديتوب غوښتنه رد شي، تاسي لا هم کولای شئ چې د IPO د ضمني خونديتوب د سپارښتنې په اړه د IPAT څخه د استیناف غوښتنه وکړئ، چې په دې صورت کې به د استیناف دواړه غوښتنو ته د یوې غوښتنې په سترګه وکتل شي او یو ځای به واورېدل شي. که چیرې تاسي د IPO لخوا هم د پاتې کېدو اجازه ترلاسه نه کړه، نو په یاد ولرئ چې د 2015 کال د قانون له مخې تاسي د پاتې کېدو د اجازې د پرېکړې په اړه له IPAT څخه د استیناف غوښتنه و نه کړئ.

**3 کتګوري – ضمني خونديتوب**

که چیرې تاسي د پیل نیټې څخه مخکې د ضمني خونديتوب غوښتنه کړې وي او ORAC لا هم ستاسي د غوښتنلیک څیړنه پیل کړې نه وي، نو د نړیوال خونديتوب لپاره ستاسي غوښتنلیک به د 2015 کال د قانون په رڼا کې څیړل کیږي. ستاسي دوسیه <u>یواځې د ضمني خونديتوب په اړه د غور لپاره د نړیوال خونديتوب دفتر (IPO)</u> ته لیږدول شوی ده. په دې صورت کې به ستاسي د کډوالۍ موقف د غوښتنلیک په اړه د ORAC سپارښتنه (یا که د تطبیق وړ وي د استیناف په اړه د IPAT پرېکړه) به پر خپل ځای او خوندي وي.

**نور معلومات**

(i) که چیرې تاسي د پیل نیټې څخه مخکې د ضمني خونديتوب غوښتنه کړې وي او ORAC ستاسي د غوښتنلیک څېړنه پیل کړې نه وي، یواځې له دې حقیقت پرته چې IPO ته د

ORAC دنده ورسپارل وي، د 2015 قانون ستاسي پر غوښتنلیک څه اغیزه نه لري. پخواني موجود قوانین د پلي کېدو وړ دی او IPO به ستاسي غوښتنلیک د پخوانیو کړنلارو له مخې وڅېړي.

(ii) که چیرې تاسي د ضمني خوندیتوب لپاره غوښتنلیک وړاندې کړی وي او د پیل له نیټې څخه مخکې RAT ته د استیناف په پړاو کې وي نو استیناف یا اپیل به IPAT ته ولېږل شي او هغوی به یې په دی اړه د پخواني موجود قانون په رڼا کې پرېکړه وکړي.

**5. د پاتې کېدو اجازه**

5.1. که چیرې د IPO سپارښتنه کړې وي چې د 2015 کال د قانون له مخې د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسي غوښتنه دې رد شي (که د کډوالی موقف او ضمني خوندیتوب دواړو یا یوائې د ضمني خوندیتوب په اړه وي)، نو بیا به په دې اړه پرېکړه وشي چې آیا تاسي ته د نورو بنسټونو له مخې په هیواد کې د پاتې کېدو اجازه درکړل شي.

5.2. دا مهمه ده څو په یاد ولرئ چې کړنلارو کې بدلون راغلی دی، په هغو مواردو کې چې لا هم د 2015 کال قانون د تطبیق وړ وي، نو وزیر به تر دې وروسته تاسي ته د هغو مدارکو د وړاندې کولو لپاره لیکلې بلنه درنکړي چې له مخې یې ولې تاسي ته په هیواد کې د پاتې کېدو اجازه درکړل شي. پرځای یې IPO دا تر غور لاندې نیسي چې د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسي غوښتني د مسترد کېدو سپارښتنه وکړي. په دې هکله پرېکړه به د هغو معلوماتو او اسنادو پر بنسټ وشي چې ستاسي د قضیې په اړه وار د مخه چمتو شوي وي.

5.3. له همدې امله که چېرې د 2015 کال د قانون له مخې د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسي د غوښتني قضیه د غور لپاره IPO ته لېږل شوې وي، نو باید تاسي د نړیوال خوندیتوب د غوښتني لپاره د پوښتنلیک (IPO2) په اړونده برخه کې په لیکلې بڼه ټول هغه دلایل څرګند کړئ چې تاسي فکر کوئ چې د هغې له امله یې باید تاسي ته د پاتې کېدو اجازه درکړل شي. د بیلګې په توګه ستاسي د کورنۍ حالات، له هیواد سره ستاسي د تړاو څرنګوالی، په هیواد کې دننه او له هیواده بهر ستاسي کرکټر او کړه وړه، او بشر دوستانه دلایل احتمالاً ټول اړونده موارد وي. د اړونده مواردو د بشپړ تفصیل لپاره لطفاً د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو لپاره معلوماتي کتابګوټی (IPO1) وګورئ.

5.4. <u>د ستاسي په وضعیت او حالاتو کې د هر ډول اړونده بدلون د رامنځته کېدو په صورت کې (د بیلګې په توګه د کورنۍ په حالاتو کې بدلون یا ستاسي په اصل هیواد او ټاټوبي کې د شرایطو بدلون) باید تاسي IPO ته (د وزیر په استاځیتوب) خبر ورکړئ.</u>

**6. که چیرې زه د انتقالي ترتیباتو تر پوښښت لاندې یم نو آیا زه د نړیوال خوندیتوب لپاره د بل غوښتنلیک ورکولو ته اړتیا لرم؟**

6.1. که چېرې د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسې غوښتنه په 4 برخه کې د پورته ذکر شویو کټګوریو له ډلې څخه یوه وي، نو تاسې اړ نه یاست چې وزارت ته د نړیوال خوندیتوب لپاره د بل غوښتنلیک ورکړئ، خو تاسې باید د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې د پوښتنلیک (IPO 2) د اړونده برخو د بشپړولو په تړاو لاندې په 7 برخه کې راغلې لارښوونې تعقیب کړئ.

**7. د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې د پوښتنلیک بشپړول**

7.1. که چېرې د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسې غوښتنه په پورته ذکر شوې 4 برخه کې د 1، 2 یا 3 کټګوریو په رڼا کې څېړل کېږي، نو تاسې باید د نړیوال خوندیتوب لپاره د غوښتنې پوښتنلیک په لاندې ډول بشپړ کړئ.

**د 1 کټګورۍ موارد (د کډوالۍ موقف، ضمني خوندیتوب او د پاتې کېدو اجازه)**

مهرباني وکړئ **بشپړ یا ټول** پوښتنلیک تکمیل کړئ.

**د 2 کټګورۍ موارد (ضمني خوندیتوب او د پاتې کېدو اجازه)**

مهرباني وکړئ پوښتنلیک تکمیل کړئ خو د کډوالۍ موقف اړونده برخه مه بشپړوئ **(63a او 63b پوښتنې).**

**د 3 کټګورۍ موارد (ضمني خوندیتوب او د پاتې کېدو اجازه)**

مهرباني وکړئ پوښتنلیک تکمیل کړئ خو د کډوالۍ موقف اړونده برخه مه بشپړوئ **(63a او 63b پوښتنې).**

7.2. همدارنګه تاسې حق لرئ څو د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک د ملاتړ په خاطر په **لیکلي بڼه** هر ډول اضافي معلومات وړاندې کړئ چې ستاسې په نظر مناسب وي. د خپل غوښتنلیک په اړه د هغو معلوماتو بیا ورکولو ته اړتیا نشته چې یو ځل مو وار د مخه سپارلي وي ځکه چې هغه ټول به ستاسې په دوسیه کې موجود وي.

7.3. تاسي باید د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې لپاره پوښتنلیک (IPO 2) له هر ډول اضافي ملاتړو معلوماتو سره یوځای چې تاسې پرې د نړیوال خوندیتوب یا پاتې کېدو د اجازې لپاره تکیه کوئ (که شتون ولري)، د هغه لیک چې تاسې له همدې معلوماتې نوټ سره یوځای له وړیا پوستې FREEPOST څخه ترلاسه کړی دی، د ترلاسه کولو له نیټې څخه وروسته د امکان په صورت کې د **20 کاري ورځې په داخل کې** په لاندې پته ور ولېږئ.

**Transitional Cases Section,**
**International Protection Office,**
**Irish Naturalisation and Immigration Service,**
**79 - 83 Lower Mount Street,**
**Dublin 2,**
**D02 ND99**

7.4. **که چېرې اړینه وي چې تاسې او/یا ستاسې حقوقي مشاور د هغو معلوماتو له سپارلو وروسته چې پورته په 7.3 پاراګراف کې یې یادونه شوې IPO ته نور بشپړونکي معلومات ور وسپارئ، نو باید دا چاره ژر تر ژره ترسره کړئ، د امکان په صورت کې د خپلې مرکې د مهالوېش څخه لږ تر لږه 2 اونۍ مخکې دا کار وکړئ. په دې توګه به که اړتیا وي د اسنادو ژباړې ته کافي وخت او اسانتیا برابره شي او ډاډ به ترلاسه شي چې د مرکې د نیټې څخه مخکې تر مخکې د IPO مرکه کوونکی ستاسې ټول اسناد په واک کې لري او په پام کې یې نیولي دي.**

## 8. د نړیوال خوندیتوب د 2015 کال د قانون له مخې به له ما سره مرکه څه وخت ترسره شي؟

8.1. کله چې تاسې د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې لپاره پوښتنلیک (IPO 2) بشپړ کړ او 7 برخې مطابق له ټولو مل بشپړوونکو معلوماتو سره یوځای مو وسپاره، نو که اړینه وي د نړیوال خوندیتوب دفتر (IPO) به د مرکې لپاره له تاسې سره په مناسب وخت کې اړیکه ونیسي. د IPO لخوا د پروسه کېدونکو غوښتنلیکونو د شمېر د ګڼ والي له امله ستاسې مرکه بنایي چې یو څو میاشتې وخت ونیسي.

8.2. تاسې ته دا اړتیا **نه شته** چې د نړیوال خوندیتوب دفتر سره په مستقیم یا په غیر مستقیم ډول د مرکې د غوښتنې لپاره اړیکه ونیسئ.

## 9. د IPAT لخوا به زما د استیناف غوښتنه څه وخت واورېدل شي؟

9.1. که چیرې تاسې کډوالی موقف استیناف ته په تمه یاست چې په اړه یې د پیل له نیټې څخه مخکې پرېکړه نه وي شوې، نو لکه څرنګه چې پورته په 4 برخه کې یادونه وشوه ستاسې دوسیه به د نړیوال خوندیتوب دفتر یا IPO ته انتقال شي.

9.2. که چیرې تاسې د ضمني خوندیتوب استیناف پایلې ته په تمه یاست نو د استیناف غوښتنه به د IPAT له خوا واورېدل شي او د اورېدو د نیټې په اړه به تاسې ته د IPAT لخوا به خبر درکړل شي.

## 10. نور معلومات

10.1. د دې معلوماتي نوټ د محتویاتو په اړه د هر ډول پوښتې باید په لیکلي بڼه info@ipo.gov.ie یا په لاندې پته د آیرلنډ د تابعیت او کډوالی د خدماتو، د نړیوال خوندیتوب دفتر د پیرودونکو لپاره د خدمتونو مرکز:
Customer Service Centre, International Protection Office, Irish Naturalisation and Immigration Service, 79-83 Lower Mount Street, Dublin 2، ته راجع شي.

10.2. د نړیوال خوندیتوب د 2015 کال قانون بشپړه بڼه او ورسره مل ټول قانوني مواد له **www.ipo.gov.ie** ویبپاڼې څخه د ترلاسه کېدو وړ دي.

10.3. دا معلوماتي نوټ هم په یو شمېر ژبو کې موجود دی چې د پورته برېښنالیک له لارې ترلاسه کېدای شي.

10.4. د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپل غوښتنلیک یا د پاتې کېدو د اجازې په تړاو تاسې کولای شئ د حقوقي مرستو د بورډ (Legal Aid Board) د خدماتو څخه ګټه واخلئ. همدارنګه د یوې بدیلې چارې په توګه کولای شئ په خپل لګښت د شخصي وکیل مشورې ترلاسه کړئ.

10.5. همدارنګه تاسې حق لرئ چې د نړیوال خوندیتوب لپاره د ملګرو ملتونو له کمشنري (UNHCR) دفتر سره د خپل کډوالو غوښتنې په اړه مشوره وکړئ.

10.6. په دې معلوماتي نوټ کې د ذکر شویو ټولنو د اړیکو جزئیات په **1 ضمیمه** کې ذکر شوي دي.

**د نړیوال خوندیتوب دفتر،**
**د آیرلنډ د تابعیت او کډوالی خدمات،**
**جنوري 2017**

**1 ضمیمه**
**د ځينو اړيکو تفصيلات**

**International Protection Office**
Irish Naturalisation and Immigration Service,
79-83 Lower Mount Street,
Dublin 2. D02 ND99
تيليفون: 01 6028000
فاکس: 01 602 8122
ويب پانه: www.ipo.gov.ie
ايميل: info@ipo.gov.ie

**International Protection Appeals Tribunal**
6/7 Hanover Street,
Dublin 2. D02 W320
تيليفون: 01 474 8400
کم لګښت تيليفون : 1890 210 458
فاکس: 01 474 8410
ويب پانه: www.protectionappeals.ie
ايميل: info@protectionappeals.ie

**Legal Aid Board**
Legal Aid Board Law Centre - Smithfield,
48/49 North Brunswick Street,
Georges Lane,
Dublin 7. D07 PE0C
تيليفون: 01 646 9600.
ويب پانه: www.legalaidboard.ie
ايميل: lawcentresmithfield@legalaidboard.ie

**International Organisation for Migration.**
116 Lower Baggot Street,
Dublin 2. D02 R252
وړيا تيليفون نمبر: 1800 406 406
تيليفون: +353 1 676 0655
ويب پانه: www.ireland.iom.int
ايميل: iomdublin@iom.int

**United Nations High Commissioner for Refugees (UNHCR)**
102 Pembroke Road,
Ballsbridge,
Dublin 4. D04 E7N6
تيليفون: 01 6314510
ايميل: iredu@unchr.org